
ډاکټر لمر افغان ۲۰۱۲/۱۱/۱۰

# د ديورند کرښه او که د پاڼو پرخه

ليا ماشوم وم، چې د دوبي په رخصتيو کې کابل ته له خپلي کورنۍ سره تللی وم. د نوبهار بس د ميوند جادې په پای کې حضوري چمن ته نيژدې ودرېدلو. دغه ورځ د سنبلې نهمه وه، چې د نادر پښتون کوڅه له ګڼوګوڼو ډکه وه او زموږ موټر د پښتونستان له څلورلارې واوښت، چې د فوارو اوبو سر آسمان ته کړی وو او په حوضونو کې يې رڼې اوبه بهېدې، چې د څاڅکو له لوېدلو سره يې خپلې ګردې ګردې څپې جوړولې. سيمه داسې ښکارېدله، چې د يو لوی جشن تياري نيول شوي وي، خو يو پلو ته ګڼشمېر خلک درېدلي ول، چې «زنده باد پښتونستان» نارې يې وهلې او ځينو يې خپل پګړي پورته اچول او خوشالي يې کوله او تر غوږو مې د راديو غږ شو «دا پښتونستان



Afghanistan After the Expiration of the Durrand Line 1993
afghanland.com

زموږ! دا افغانستان زموږ!»، مګر موږ له دغه څلورلارې نه ورو ورو تېر شولو.

په موټر کې مې له خپل ماما نه وپوښتل، چې موږ خو پښتو وايو، نو هغه راته وويل، چې هو زموږ ژبه پښتو ده. بيا مې ورته وويل، چې افغانستان خو دغه ځای دی، نو دا پښتونستان چېرې دی. درنو لوستونکو دغه زما د ماشومتوب لومړنۍ پوښتني وې، چې د پښتونستان واټ له هغه هيو هويه د پښتونستان په اړه زما په ذهن کې راپيدا شوې او له ماما مې واورېدل، چې پښتونستان هغه ځمکه ده، چې پاکستان زموږ نه په زور نيولې ده او ځکه موږ د پښتونستان د آزادي لپاره مبارزه کوو او په دغه ورځ يې لمانځو. په زړه پورې دا وه، چې زه نه د پښتونستان په ارزښت پوه شوم او نه هم د پښتنو په آزادي، مګر به کور کې به چې هر څه خراب شول، نو بيا به ټولو ويل، چې دا شی ديسي دي او يا پاکستاني دي! عجيبه ذهنيت او عجيبه پېښې وې!

د وخت په تېرېدو سره مو د لومړي ځل لپاره د پښتو ليک لوست په ښوونځی کې پيل کړ، زموږ نور سبقونه په دری ول او استادانې مو زياتره دری ژبې وې، خو خدای شته، زموږ ټولو استادانو د افغانستان ملي ذهنيت موږ ته تدريسولو، چې زموږ علاقه يې له پښتني کلتور سره زياتوله او خپل ملي ارزښتونو ته مو وروړ ورو پام اړول کېدلو، چې د پښتني شاعرانو لکه خوشال بابا، حميد بابا او رحمن بابا له نومونو سره هم آشنا شولو او په درسونو کې به راته ويل کېدل، چې د دغو مشرانو زيارتونه په پښتونستان کې دي او د افغانستان بابا احمد شاه دی او نيکه يې ميرويس خان دی! ليا ډېر وخت نه و تېر چې د غويي سره غميزه رامنځ ته شوه او هر څه بل ډول شول.

په افغانستان کې د مجاهدينو، او ملحدينو کيسې پيل شوې. د افغانستان ډېر خلک له افغانستانه وتښتېدل، چې ډېر يې ايران او پاکستان ته مهاجر شول. په دغه موده کې به خلکو ويل، چې افغانان پاکستان ته نه دي تللي، بلکې خپل ټاټوبي يعنې پښتونستان ته تللي دي. په افغانستان کې د کمونيستي واکمنو ظلم خپلې انتها ته ورسېدلو، چې کمونيستانو په يو او بل پسې هم راواخيستله، چې خپل ملګري او رهبران يې يا تبعيد کړل او يايې هم په بالښتونو خفک کړل، خو په خلکو کې د مجاهدينو د فعاليت او ژغورنې احساس پيدا شو، نو خلکو هم خپل ملاتړ له مجاهدينو سره پياوړی کړلو.

مجاهدين او د هغوی رهبري هسته د پښتونستان په پېښور کې ځای پر ځای شول او د کمونيستانو پر ضد يې خپل مورچل تاوده کړل، په ۱۹۷۹ ميلادي کال د (برېژنف، ګروميکو، پونوماريوف، اوستينوف او اندروپوف) په نبغه لاسوهنه روسانو په افغانستان بربنده تېری وکړ او د ببرک کارمل په مريتوب يې کمونيستي لاسپوڅې واکمني رامنځ ته کړه. په زړه پورې دا ده، چې د مجاهدينو مرکزونه په پېښور يعنې پښتونستان (پښتونخوا) کې مستقر ول، خو روسي سره ځواکونه او افغاني کمونيستان له تورخمه ها پلو هېڅکله هم وانوښتل، مګر مجاهدينو د کمونيستي ځواکونو سټه وايستله، خو بيا هم دوی تر تورخمه تلل او بيا به يې خولې جينګې کړې او بيرته به راستانه شول. د بډه ببره پېښه هم هغه مهال وشوه، چې څو تنه روسان پکې مړه شول، ځکه يو مجاهد د دې پرځای چې روسان په نښه کې خپل راکټ يې د مجاهدينو په سلاکوټ ورخوشې کړی وو، چې د سلاح ډيپو وُر واخيست، خو بيا هم نه روسانو او نه هم کمونيستانو له تورخمه پښه ها خوا کېښودله!


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زه د کابل په پولیتخنیک انستیتوت کې محصل شوم، چې د لومړي ځل لپاره مې پېښوریان، ژوبوال او د چمن د سیمو محصلین هم ولیدل، چې وروسته له یو څو شپو به مخ په شوروي اتحاد والوتل. دغه محصلینو له افغانانو سره چنداني دوستي نه کوله او ډله ډله به ګرځېدل یا یې وهم درلود، چې افغانان د کمونیستي واکمنو پر ضد دي، چې ګواکي دوی ته کوم خطر پېښ نه شي. په پوهنتون کې به هم دغه پېښوریان او یو شمېر بلوڅان په خپلو جامو کې ګرځېدل او له پطلانه او یخن کاک سره یې علاقه نه درلودله. دوی به د پولیتخنیک له ساحې بیرون ډېر کم ګرځېدل او مورږ به زیاتره په طعام خانه کې لیدل، نو دغه زما لومړی ځل وو، چې پښتونستانیان مې له نیژدې ولیدل. له دغه پېښو وروسته مې خان عبدالغفار خان فخر افغان، ولي خان او اجمل خټک نومونه هم واورېدل او په تلویزیون کې مې ولیدل، چې زما علاقه یې له پښتونستان سره نوره هم زیاته کړه.

کله چې زه د لوړو زده کړو لپاره شوروي ته ستون شوم، نو له ډېرو نورو پېښو سره مخامخ شوم. په مسکو کې مې دې ته پام شو، چې د پېښور، چمن، ژوب، سوات او یو شمېر نورو سیمو پښتانه محصلین هم مسکو ته راغلي دي، نو وروسته له پیژندنې مو له یو او بل سره خبرې هم شریکې کړې. ځکه دوی په نیغه له پېښوره راغلي ول، نو ما ته په زړه پورې وه، چې د افغان مهاجرینو په اړه پوښتنې ترې وکړم او د جهادیانو په اړه معلومات تر لاسه کړم، مګر ډېر ژر پوه شوم، چې په غلطه پته ووابښتم، ځکه دوی راته د افغانستان د کمونیستي دولت ننګه وکړه او ځانونه یې (PLO, PSO, PSF) او داسې نورو ګوندونو او سازمانانو غړي معرفي کړل، چې لومړی یې زه په نوم او موخه پوه نه شوم، مګر وروسته مې سر خلاص شو، چې دغه د توریو لنډیکې څه دي او څه معنی لري او دا چې پښتنې، بلوڅ او یو شمېر نور محصلین د کوم قرارداد پر بسټ شوروي اتحاد ته راځي او زده کړې کوي.




د پېښوریانو او بلوڅانو توپیر له افغاني محصلینو نه په دې کې وو، چې دوی ټول د شوروي اتحاد اورویایي ملکونو (روسیه، اوکراین، بېلاروسیه، ایستونیا، لاتویا، لیتوانیا) ته استول کېدل او ټولو په طب، انجینیرۍ، نړیوالو حقوقو یا نړیوالو اړیکو په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې کولې، د مسلک په ټاکنه کې خودمختاره ول، بل دا چې د پښتونستان او بلوڅستان محصلین سمه سازماندهي درلودله، د روسانو مشاورینو هم ورسره کار کولو او په خپلو کې ډېر متحد او ژمن ول. د افغانستان په سفارت یعني په مسکو کې د سفارت دویم سکرتر (ښاغلی وارث خان) د پښتونستان او بلوڅستان د محصلینو ځانګړی استازی وو. ټولو پښتونستانیو او بلوڅستانیو محصلینو افغاني پاسپورټونه درلودل، مګر بیا هم دوی کولی شوی، چې پولینډ، چکوسلواکیا، هنګرۍ، رومانیا او یو شمېر نورو سوسیالیستي ملکونو ته په افغاني پاسپورټونو د شوروي اتحاد د ځینو مرجعو په وساطت خپل سفرونه وکړي، ځکه موخه یې ټل کومه سیاسي لوبه وه.

په ۱۹۸۸ میلادي کال په پاکستان کې بې نظیر بوټو صدراعظمه شوه او خپلې اړیکې یې له شوروي اتحاد سره ښې کړې او اعلان یې وکړ، چې ټول هغه پښتانه او بلوڅ محصلین چې په شوروي اتحاد کې د افغانستان د دولت په وساطت په زده کړو بوخت دي، نو کولی شي، چې د پاکستان په سفارت کې د پاکستاني تابیعت پاسپورټونه تر لاسه کړي. دغه خبر د شوروي اتحاد په ټولیزو رسنیو کې هم خپور شو. د افغانستان او شوروي اتحاد د قردادونو پر بنسټ هر کال د لوړو زده کړو لپاره له ۳۰۰ تر ۴۰۰ پښتانه او بلوڅ محصلین د پښتونخوا او بلوڅستان له سیمو شوروي اتحاد ته تلل او همدا ډول له ایرانه د کمونیستي سازمانونو محصلین هم د افغانستان له لارې روسیې ته تلل.
د محصلینو په منځ کې د پاکستاني پاسپورټ غوغا پورته شوه. مورږ افغان محصلین په دې اند وو، چې د پښتونستان د لسیزو مبارزه به دغه محصلین دې ته پرې نږدي، چې د «پاکستاني» شرمولی نوم پر ځان کېږدي او د پښتونستان نوم له خاورو سره خاورې کړي، مګر لیا اونی نه وه پوره شوې، چې د پښتونستانیانو استازي مسکو ته ولاړل او وروسته له معلوماته ټولو پښتونستانیانو پاکستاني شنه پاسپورټونه تر لاسه کړل، چې په وروستي پاڼه کې یې لیکل شوي ول، چې یوازې اسرائیلو او جنوبي افریقا ته تګ په دغه پاسپورټ ممنوع دی، نور نو ټولو بهرنیو ملکونو ته تلی شي. پاکستانیانو (مخکني پېښوریانو یا پښتونستانیانو) افغاني پاسپورټونه د افغانستان سفارت ته نه بلکې د روسي پوهنتونونو د بهرنیو چارو څانګو ته وسپارل، چې بیا هغوی د افغانستان سفارت ته واستول، نو پوښتنه هم عجیبه ده، فردي آزادي لکه چې خپل بل خوند لري!
وروسته له دغه پښتونستانیان او بلوڅان نور هم آزاد شول او کولی یې شوی، چې د دعوتنامو په مرسته د ډیموکراتیک آلمان تر څنګ لویدیز آلمان ته هم سفرونه پیل کړي، مګر مورږ افغانان په یو شانته ذهني جبلخانه کې تېرولې او ویل به مو، چې ولې هغوی کولی شي سفرونه وکړي، مګر مورږ افغانان یې نه شو کولی! پرته له دې



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

موږ افغان محصلين د خپلو افغان کمونيستانو لخوا تر څارنې لاندې هم وو، چې راپورونه مو کله افغان سفارت ته او کله هم د انستيتوت نظارت ته استول کېدل! بس د ذهني مېچنې د دوو تيږو تر منځ وو، خو د ديورند د ليکې وسوسه مو ليا په زړونو کې پاتې شوه.

شل کاله مخکې د ديورند د کرښې د سلمې کليزې په اړه په ډېرو سيمو کې غونډې جوړې شوې او د ديورند کرښه يې پکې وغندله او ځينو دا هم ويل، چې ګواکې د دغه کرغېړنې کرښې ۱۰۰ کاله پوره شول او په ټولنيزو اړيکو کې چې د يو قرارداد ۱۰۰ کاله پوره شي، نو فسخ کېږي يعني له منځه ځي، خو دا دي له هغه ورځې نور ۲۰ کاله هم تېر شول او د ديورند کرښه د خپل عمر ۱۲۰ کليزې ته ورننوځي، يعني په ۱۲۰ کلنۍ پښه ږدي، مګر تر ننه دغه کرښې هېڅ توپير هم نه دی کړی، پرته له دې چې د پښتونستان يوې برخې د پښتونخوا نوم خپل کړی دی.

که د ديورند تاريخي شاليد ته وکتل شي، نو دغه کرښه د دوو هغو ملکونو يا د واکمنيو مسؤلينو تر منځ ياده شوې وه، چې يو پلو ته نيمه مستعمره افغاني واکمني وه او بل پلو ته د انګرېز استعماري بريتانيايي هندي مستعمره وه، چې دغه خيالي کرښه د ۱۸۸۳ ميلادي کال د نوامبر په ۱۲ نېټه رامنځ ته شوې او وروسته د ۱۹۴۷ ميلادي کال د اوګوست له ۱۴ نېټې سره ورکه شوې ده، ځکه د هغه مهال هندي برتانيا واکمني له منځه تللې ده، چې پر ځای يې پاکستان جوړ شوی دی او هغه نيمه مستعمره افغانستان هم خپل موجوديت وروسته له ۱۹۱۹ ميلادي کاله د يو خپلواک هېواد په توګه راڅرګند کړی دی، چې دغه تاريخي واقعيت د دغه کرښې حقوقي برخه تر سوال لاندې راولي.

د ديورند حقوقي شاليد د افغانستان او نړيوالو سازمانونو او اشخاصو لخوا هر اړخيز څېړل شوی دی، نو ښه به دا وي، چې په دې اړه هغو حقوقي اسنادونو ته مراجعه وشي، چې په بربښنايي رسنيو کې شته دي. زما په ګومان د ديورند کرښې د معضلې دواړې خواوې وروسته له ۱۹۴۷ کاله خپل موجوديت په زړه بڼه چې استعماري حقوقي مسؤليت يې درلود، له منځه تللې دي، ځکه نو د ديورند کرښې موجوديت حقوقي ارزښت نه لري، چې په دې اړه د امريکا، روسيې، انګرېز، جرمن او ګڼشمېر نورو ملکونو د افغانستان پېژندنې په انستيتوتونو کې د دغه کرښې کرغېړن کرکټر او غير قانوني بڼې ته نغوته شوې ده، چې معلومات يې تاسو په اينټرنېټ کې په آساني پيدا کولی شی.




د ديورند سيمه يز جغرافيايي او ثوق الجيشي شاليد ته که وکتل شي، نو دغه د پرخې کرښه چې د شپې له سړو سره پر پاڼو خپرېږي، نو د سهار له تودوښې له پاڼو يا ښويېږي او يا هم په بخار تبديلېږي، ځکه خلک عادي ترې تېرو بېر کېږي او خپلې عادي کورنې اړيکې ساتي او د خپلوي ژوند کوي. دغه کرښه د سيمې د غرنې جوړښت پر بنسټ هېڅکله هم د يو سرحدپه بڼه نشي رامنځ ته کېدلی. له بل پلوه د جغرافيايي جوړښت پر بسټ بايد يوه سيمه له بلې د غرونو او يا سمندرونو په مرسته بېله شي، نو پښتنو ته خدای د اټک سيند (ايندوس) او آمو سيند تر منځ سيمه ورپه برخه کړې ده، چې د دغو دوو سمندرونو تر منځ بل لوی تېر نشته دی. تاجکستان، ازبکستان او تورکمنستان رانه د آمو سيند بېل کړي دي او پنجابيان بيا رانه د اټک (ايندوس) سيند بېل کړي دي، نو د دغو دوو سيندونو تر منځ د مصنوعي ليکې کښل هماغه د شپې د پاڼو پرخه ده، چې په تياره کې پيريان په سوربېږي او په رڼا کې انسانان ترې تېرېږي.

د ديورند کرښې سيمه ييز قومي شاليد هم په زړه پورې دی. انګرېز غوښتل او يا يې ننني امريکا غواړي د پښتنو په زړه د بېلتون کرښه تېره کړي، چې يو قوم په دوو برخو ووېشي. د کرښو دوو خواو ته مسعود، وزير، شينواري، اڅکزي، يوسفزي، الکوزي، مومند او داسې نور پراته دي، چې د قومي اړيکو تر څنګ د وينې ډېرې نيژدې د خپلوي اړيکې هم لري، چې د دغه سيمې قومي جوړښت پر بنسټ انګرېز او يا نور غليمان هېڅکله هم نه شي کولی، چې کومه کرغېړنه کرښه رامنځ ته کړي يا يې په سيمه کې تېره کړي او يا يې هم وساتي، نو د کليوالو خبره، چې بنده يې بوله!

د ديورند کرښې د سېمې اقتصادي شاليد ته که پام وکړو، نو دغه سيمې د افغانستان لپاره ځينې ستونزې هم رامنځ ته کړې دي، چې هغه د افغانستان ناراضه يا خوابدي او يا هم تښتېدلي وګړي دي، چې د سردار محمد داود خان له واکمنې رانيولې تر ننه پورې د افغانستان پر ضد دلې ټپلې ترې روزل کېږي او په افغانستان کې يې جنګ تود ساتلی دی، نو ښه به وي، چې د سيمې په دغه فکتور څېړنې وشي او د دغه ستونزې د حللاره وموندل شي، چې سيمه په کرار شي، پرته له دې د ديورند کرښې منل يا نه منل په سيمه کې د سولې او امنيت تضمين نه رامنځ ته کوي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که دیورند د افغانستان او پاکستان په تله کې وتلل شي، نو د دواړو به کومي موخې وي، چې دغه کرښه د خپل هېواد په ګټه وکاروي. دا چې دغه کرښه د پښتنو په سیمه کې تېره ده یا د تېرېدو خوبونه یې لیدل کېږي، نو د ستونزې حل هم باید د پښتنو په سیمه بیز موقف کې ولټول شي، چې د سیمې د پښتنو یا ټولو اوسېدونکو ګټه په څه کې ده او په نورو سیمه بیزو قومونو لکه: ازبک، ترکمن، تاجک، منځنۍ آسیا او ټولې سیمې په نورو وګړو یې اغېز څه دی، نو که دغه حالت سم وسپړل شي، نو د افغانستان او پښتنو د سیمې جیوپولیتیک ارزښت به هم سم څرګند شي.
په پاکستان کې قومي یا ملي روحیه ضعیفه ده، ځکه بېلابېل ټبرونه خپل قومي ارزښتونه لري او مملکت یې بیا په فدرالي جوړښت کې ښکېل دی، مګر په افغانستان کې برعکس ملي روحیه ډېره قوي ده، ځکه یو ځانګړی تاریخي شالید لري، چې په وروستیو دېرشو کلونو کې د شوروي اتحاد زوال هم په افغانانو کې ملي هویت نور هم پیاوړی کړی دی، چې نن سبا افغانستان ته د امپراتوریو د جلګو لقب هم ورکړل شوی دی، چې دغه لقب هم د افغانانو په ملي هویت او ملي احساس کې ډېر غوره رول لوبوي، ځکه یې لوېدیزوال هم په ګونډه کړي دي.

په پاکستان او افغانستان کې ۵۰-۵۲ میلیونه پښتانه اوسېږي، چې ۳۴ میلیونه یې په پښتونستان کې او پاتې ۱۶یا ۱۸ میلیونه په افغانستان کې اوسېږي. له کرښې ها پلو د پښتونخوا نفوس د پاکستان د ټول نفوس ۲۸-۳۰ ٪ دی او په افغانستان کې د پښتنو نفوس له ۵۵ تر ۶۳ ٪ پورې یادېږي، خو په زړه پورې دا ده، چې د پښتنو او د سیمې د نورو قومونو ژوند په کومه برخه کې هوسا دی او د ژوند سهولتونه او ټولنیز انډول او امنیت پکې تأمین دی، نو د دغو ټولنیزو فکتورونو په بنسټ خلک هم خپل انتخاب کوي، چې په څه ډول د دیورند کرښه په سیاسي بڼه هم له منځه یوسي.

پښتانه په پاکستان کې پیاوړی ټولنیز موقف لري، چې د پاکستان په نظامي، ډیپلوماتیک او سیاسي برخه کې یې رول روښانه دی، مګر په افغانستان کې پښتانه په خپلمنځیو شخړو کې ښکېل دي، پوره نیمایي پښتانه له خپلې ژبې سره کمه مینه لري او یا نه غواړي چې پښتو ژبې ته وده ورکړي. له بده مرغه افغانستان خو د هوساینې شرایط، د ژوند سهولتونه او امنیت بېخي نه لري، نو د دیورند کرښې منل یا نه منل د سیمې په قومونو پورې اړه لري، چې په دې برخه کې د افغانستان خلک باید څه وکړي؟ دا هغه پوښتنه ده، چې هر افغان یې باید له ځانه وکړي! د اسلام مقدس دین درته وایي، چې نېغه لار جنت ته درښییم او نور درته وایي چې دنیا وګټه او آخرت هسې هم جهنم دی، نو تاسو به څه شی غوره کړی!
که د دیورند کرښه او افغانان د منځنۍ اسیا په تله کې وتلل شي، نو افغانان ډېر پیاوړی سیمه بیز جیوپولیتیک دریځ خپل کولی شي، چې د هند له تودو اوبو ټولې منځنۍ آسیا، روسیې، اوروپا او حتی افریکا ته د ترانزیتي لارې د رامنځ ته کولو، ساتلو او ودې ژمن وګرځي، ځکه افغانان د سیمې ټولنیزه شمزۍ ګڼل کېږي، مګر په دې شرط، چې افغانان د سیمې په اداره پوه شي، یعنې یوه پیاوړې واکمني رامنځ ته کړي، پرته له هغې د وخت په تېرېدو سره به افغانان خپل دغه جیوپولیتیک موقف هم په نشت کې له لاسه ورکړي. پاکستان که ښه ووایم پنجابیان غواړي د دغه کرښې په مرسته ټوله سیمه کنټرول کړي، چې بیا به هم افغانان او هم نور ټبرونه د پنجابیانو ګروګان یا غلامان وي، نو په دې برخه کې باید افغانان خپل ایماني ژمنتیا د سیمې او خپلو خلکو د هوساینې لپاره پر ځای کړي.


افغانستان د سیمې د ترانزیتي او ترانسپورتي لارې غنې جوړولی شي.
د واخان له دالانه تر هراته او بیا له ترکمنستانه تر تورې بحیرې پورې د ترانزیتي لارې رامنځ ته کول او له سایبریا نه رانیولې تر آستانې او له آستانې تر تېرمزه او له حیرتانه تر ګواډره د هند تودو اوبو او د عربو تر سیند پورې، ټولې لارې له افغانستانه تېرېږي، نو پر افغانانو پورې اړه لري، چې ټول قومونه له پښتنو سره لاس یو کوي او ټوله سیمه د افغان په نامه کنټرول کړي، سیمه هوسا کړي، امنیت رامنځ ته کړي او که ځان ځاني وي، نو هر یو به ځان له نورو سره مدغم کړي!
زه د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۶ میلادي کال په دې وتوانیدم، چې پېښور ته لاړ شم. په کابل کې مې د جلال آباد له اډې نه یوه زړه غواګۍ او که سراچه ونیوله او له تورخمه بیا په پښو تېر شوم، مګر تورخموالو راڅخه ۱۰۰ کلدارې رشوت واخیست، خو پرته له ویزې تېر شوم. په کابلي غواګۍ کې ډېر ستومانه شوی وم، مګر په زړه پورې دا وه، چې د سرحد ها پلو د ۲۰۰۶ میلادي کال ښایسته، پاکې او نوې کرولا ګانې درېدلې وې، چې یوه یې ما ونیوله او وروسته له یو ساعته د پېښور ښار ته ورسېدلم.
د پېښور ښار د کابل په پرتله پاک، شین او ښایسته وو. په پېښور کې په هر کور کې برېښنا وه، تودې اوبه وې او تشنابونو یې کانالیزاسیون درلود. خلک یې آرامه ول او په کوڅو کې یې له یو او بل سره مرسته کوله، د خلکو تر


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

منځ احترام وو او امنيت تآمين وو. يوې سيمي ته راورسېدم، چې يو شمېر افغان ځوانان غاړه په غاړه او لاس پر لاس ګرځېدل او نجونو ته يې غېږ! نو ما مي خپل لاروي ملګري ته وويل، چې دغه هرومرو افغانان دي، هغه وخندل او رانه يې وپوښتل، چې څه پوه شوې! ما ورته وويل: پرزه ګفتن او دختر آزار دادن خو كار ما هم در كوچه های رابعه بلخي او سوريا بود! يعني چې ماسپښين به هلكان رخصت شول، نو ټولو به لكه ديدو سپيو د نجونو د ښوونځيو مختې منډې وهلي، نو په پېښور کې هم هغه مهال يو شمېر افغانان د نجونو د ښوونځي مخې ته درېدلي ول او هر څه ته يې خولې اچولې!

كله چې بېرته افغانستان ته يا ښه ووايم كابل ته راستنېدم، نو له تورخمه مې په دوړو سر شو. له تورخمه رانيولې تر جلال آباده مې برېښنا و نه ليدله، لارې كندې كپرې وې، د سړكونو پلونه نړېدلي ول، د سرحدي او لويو لارو د سرتېرو نخرې به نه يادوم. مازديګر كابل ته راورسېدم، چې د كابل دوړو مې دماغونه پټ او په سر درد كړل. د كابل رود د خپلې بلاربېدو په دويم پړاو کې وو، يعني د «سه ماه آب و نوه ما ...» د اوبو له وخته تېر وو او ډوډوزې يې لګېدلې. د يو شمېر كورونو تر شا د فاضله موادو د كوڅو تعفن ټوله سيمه پر سره اخيستې وه. خپل كور ته چې ورسېدلم، نو كور مو د سولر په برېښنا رڼا وو، مګر د كابل په ښار کې هغه شپه برېښنا هم نه وه او تپه تياره وه او د ټكو ټوک آوازونه!

پايله

كه افغانان غواړي چې د سيمي د ودې سبب شي، خپل ژوند آرامه كړي او په سيمه كې امنيت راشي، نو بايد د وطن ټول قومونه د افغاني هويت  په اړه هوډ وكړي، چې او دا كار د اتحاد د سيمې د ټولو قومونو په ګټه دى. پرته له افغانانو يا دد افغانانو ځيل د ټولو په نقص دى، ځكه افغانان لوى ټبر دى او د سيمي د ترانزيتي لارو او د منځنى آسيا د ټولو ټبرونو تر منځ پروت دى. افغانان بايد خپل سيمه ييز مسؤليت پر ځاى كړي او ټول يو موټى شي او يوه قوي سيمه ييزه اداره رامنځ ته كړي، ځكه د منځنى آسيا د ټولو ټبرونو نښلول د هند له اوبو سره او هندو-چين نښلول له روسيې او تورې بحيرې سره د افغانانو په سيمه كې تر سره كېږي. هغه هېوادوال، چې د ايران د پياوړي كېدلو خوبونه ويني، بايد ورته ياده شي، چې د تاجكستان، ازبكستان، تركمنستان... لارې پر افغانستان تېرېږي، نو يوازينى لاره له افغانانوسره اتحاد او تفاهم دى، ځكه نه پنجاب او نه هم ايران زموږ د ټولنيز درد دوا نه ده! دغه انساني موخو ته رسېدل په سيمه يعني افغانستان كې يوې ځانګړه، صادقي او په ټولنيزو اخلاقو سمبالي ادارې ته اړتيا لري.

د افغان ولس د برې په تمه



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ